# مسیر
ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۷ د مرغومې درېیمه | د ۲۰۱۸ د ډسمبر ۲٤مه | دویم کال|۳۰٦مه گڼه


په افغانستان کې د جگړې د خصوصي کېدو هڅې؛

# امریکا لا هم په افغانستان کې پر جگړه پانگونه کوي



۳

## بې ارزښته سیاستوال

۲ مخ

## سوله؛ فرصتونه او ننگونې

۲ مخ

## د نړۍ هغه ځایونه چې په لیدلو یې حیرانېږئ

۳ مخ

## د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر نن بیا کابل ته راځي

د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت په یوه اعلامیه کې ویلي چې د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي د سیمې څلورو هېوادونو ته د سفر په ترڅ کې کابل ته هم سفر کوي.

ټاکل شوې چې دغه سفر نن پیل شي. له قریشي سره په دغه سفر کې د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت مرستیال او نور لوړپوړي چارواکي هم ملگرتیا کوي.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت ویلي، شاه محمود قریشي به له افغانستان سربېره، ایران، چین او روسیې ته هم لاړ شي.

د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت د قریشي د سفر موخه له گاونډیو هېوادونو سره د تماسونو ساتلو په برخه کې د پاکستان د پالیسۍ یوه برخه گڼلې ده.

دا اعلامیه وایي: «د دې سفر په ترڅ کې به د بهرنیو چارو وزیر د دغو هېوادونو د لوړپوړو چارواکو سره په بېلابېلو برخو کې د دوه اړخیزو اړیکو او همکاریو د پراختیا په لارو چارو وغږېږي».

په اعلامیه کې دا نه ده څرگنده شوې چې قریشي به لومړی کوم هېواد ته سفر وکړي، خو د افغانستان نوم د دغو څلورو هېوادونو په سر کې لیکل شوی دی.

تر دې وړاندې هم د روانې میلادي میاشتې په ۱۵مه کابل د افغانستان، پاکستان او چین د درې اړخیزې غونډې کوربه و چې په ځینو مهمو مسایلو پکې خبرې وشوې.

## حکومتي چارواکي او د ملي شورا غړي له ملي بودجې ناوړه گټه اخلي



۲ مخ

## هېواد

۴ مخ

### اندورا

بانکي چارې، سیلانیان، هوټلونه، پرچون خرڅلاو او مالي چارې د دغه هېواد په اقتصاد کې مهمه ونډه لري او نږدې ۸۵ سلنه خلکو ته یې د کار کولو زمینه برابره کړې ده.



## برېښنا وزارت د ۳۷۰ میلیونو ډالرو په لگښت۲۰۰۰ مېگاواټه سولري برېښنا تولیدوي



د اوبو او برېښنا وزارت وایي، د هېواد په ۵ زونونو کې به د خصوصي کمپنیو په پانگه ۲۰۰۰ مېگاواټه سولري برېښنا تولید شي.

د دغه وزارت سرپرست وزیر محمدگل خلمي وویل: «موږ د افغانستان په ۵ زونونو کې د ۴۰۰ مېگاواټو په ظرفیت چې په مجموع کې ۲۰۰۰ مېگاواټه سولري برېښنا کېږي، یوه بسته اعلان کړې چې خصوصي سکټور پکې پانگونه وکړي او د برېښنا شرکت چې د اوبو او برېښنا وزارت ملاتړی دی، دغه تولیدېدونکې سولري برېښنا وپېري».

د نومړي په خبره، د دې پروژې د بشپړېدو لپاره اتلس میاشتې په پام کې نیول شوې چې کابو ۳۷۰ میلیونه ډالره لگښت پرې راځي.

د برېښنا شرکت رییس امان الله غالب وویل، د سولري برېښنا په تولید سره به د هېواد په ډېری سیمو کې د برېښنا د کموالي ستونزه کمه او بیه به یې ټیټه شي.

## به اساس حکم ریاست جمهوری دو وزارت و سه ریاست عمومی با هم ادغام شدند



به اساس فرمان رئیس جمهور، وزارت های ترانسپورت و فوایدعامه، ریاست ترافیک وزارت داخله، اداره هوانوردی ملکی و اداره خط آهن، تحت عنوان وزارت ترانسپورت ادغام شده است.

در خبرنامه دفتر ریاست جمهوری که دیروز منتشر شد آمده است که به اساس فرمان مقام ریاست جمهوری، واحد اداری جدید تحت عنوان وزارت ترانسپورت با ادغام وزارت ترانسپورت، وزارت فوایدعامه، اداره هوانوردی ملکی، اداره خط آهن و ریاست ترافیک وزارت امور داخله ایجاد می شود.

منبع، هدف از ایجاد این واحد اداری جدید را تحقق به موقع و مؤثر اهداف و اولویت های دولت در راستای تأمین حکومت‌داری خوب، نهادینه سازی اصلاح اداره عامه، تسریع روند و سرمایه گذاری ستراتیژیک در عرصه زیربناهای کشور و رفع تداخل وظیفوی میان نهادهای یادشده وتحقق اصل صرفه جویی در مصارف عنوان کرده است.

خبرنامه افزوده است که بر مبنای فرمان ریاست جمهوری، تمام اسناد تقنینی این نهادها با هم مدغم می گردد و تا نهایی شدن روند ادغام نهادهای فوق‌الذکر و تکمیل طی مراحل تعدیلات ضروری در اسناد تقنینی مربوط، پیشبرد و تعمیل کلیه صلاحیت‌ها و مسئولیت های قانونی آمرین اعطای درجه اول نهادهای فوق، به عهده متصدی وزارت فوایدعامه می باشد.


Heart of Asia Daily
Annual subscription
Individual: 3500AFN
Organizations: 300$

مسیر ورځپانه
کلنی گډون
دولتي او شخصي دفترونو ته: ۳۵۰۰؋
بهرنیو سفارتونو او موسسو ته: ۳۰۰$

+93202502100
+93777989696
Heartofasiadaily@gmail.com
Maseerdaily@gmail.com




دریـځ

## بې ارزښته سیاستوال

ولسمشر غني پرون د ملي دفاع د سرپرست وزیر په توګه د اسدالله خالد او د کورنیو چارو د سرپرست وزیر په توګه د امرالله صالح د ټاکل کېدو فرمانونه لاسلیک کړل. دوی به تر هغو سرپرستان وي چې له ولسي جرګې د باور رایه ترلاسه کوي. صالح او خالد دواړه د حکومت سیاسي مخالفین وو چې پر حکومت به یې وخت ناوخت نیوکې کولې. امرالله صالح خو بیا د ولسمشر په اړه د نورو تونډو خبرو ترڅنګ، هغه فاشیست او قومپاله هم ګاڼه او د هغه کړنې یې د افغانستان پر زیان بللې .

اوس پوښتنه دا ده چې دا کسان ولې حکومت ته ورغلل او ولسمشر ولې پر دوی باور وکړ؟

د دغو دواړو کسانو په اړه ویل کېږي چې د پاکستان ضد څېرې دي او په دې وروستیو کې یې د سولې په چارو کې د حکومت منزوي کېدو ته لاره پرانیسته چې حکومت د پخوا خلاف په امنیتي ادارو کې پاکستاني ضد کسان وګماري. دواړه ګومارل شوي کسان له طالبانو سره هم د جګړې او دښمنۍ بګروند لري چې په دې سره د سولې په چاره کې د ستونزو د را پیدا کېدو اندېښنې هم شته. وروسته به معلومه شي چې رښتیا د دوی ګومارل به د سولې پر چارو اغېز ولري او که نه.

اوس د جدي اندېښنې ځای دا دی چې دلته سیاستوال بې ارزښته شوي دي، سرې کرښې نه لري، مخالفت او موافقت ټول یې د ځوکۍ او شخصي ګټو لپاره وي. کله چې ځوکۍ نه وي، مخالف وي او کله چې ځوکۍ ور ورسېږي، موافق شي. همداسې کله چې سیاستوال د حکومت سیاسي مخالفت کوي، حکومت او حکومت پلوي یې خاین، غاصب، مفسد او بد ګڼي، خو کله چې دنده واخلي، بیا هغه پیاوړی، په کارپوه او مسلکي شخص شي. سیاستوال ارزانه پلورل کېږي، خپل دریځ بدلوي او د ارزښتونو په نامه په ژوند کې څه نه لري. حکومت هم چې فشار پرې راشي، هر لور ته لاس اچوي، بدې او ناوړه معاملې کوي، قدرت وېشي او هغوی له ځان سره ملګري کوي چې هېڅ مشترک ټکي ورسره نه لري. عمر داودزي به د حکومت په اړه تر طالبانو تونده ژبه کاروله، ځان به یې «بدیل تر حال انتظار» ګاڼه، ان ولسمشرۍ ته د کاندیدۍ خبرې یې کولې، خو چې د یوې ورې ځوکۍ وړاندیز ورته وشو، په منډه حکومتي شو. امرالله صالح به پر حکومت تونډې نیوکې کولې، ان ولسمشر ته به یې فاشیست او قومپال وایه، وخت ناوخت به یې په نیوکو کې ټول ارزښتونه تر پښو لاندې کول، خو چې د ځوکۍ وړاندیز ورته وشو، اوس هر څه سم دي. ولسمشر او ملګرو به یې هم د کرزي د حکومت چارواکي غله او فاسد ګڼل، دا به یې خپله لاسته راوړنه ګڼله چې دا کسان یې له حکومته ایستلي. دغه راز به یې د دغو کسانو په اړه تونډې او تېزې خبرې کولې، خو اوس بیا ورسره معامله کوي، ځوکۍ ورکوي، کادرونه یې ګڼي، ستایي یې او خپل کار سم ګڼي.

له بده مرغه زموږ په سیاستوالو او چارواکو کې ارزښتونه مړه شوي، سرې کرښې نشته، ولس او ولسي ګټې ورته ارزښت نه لري. دوی هر وخت معامله کوي، د معاملې لپاره سیاست کوي، د معاملې لپاره مخالف وي او د معاملې لپاره موافق شي. دا چاره به د اوږده وخت لپاره زموږ سترو ګټو ته زیان رسوي، خلک به پر سیاستوالو او چارواکو باور نه کوي او دا چاره به زموږ ثبات او ګټې ګواښي.

# سوله؛ فرصتونه او ننګونې

لیکنه: **شاه محمود میاخېل** - په افغانستان کې د متحده ایالتونو د سولې د انسټېټیوت مشر

لومړۍ برخه:

په دې ورځو کې د افغانستان د سولې په تړاو خبرې اترې زیاتې شوې. په هېواد کې دننه او بهر د هیئتونو تګ او راتګ، رسمي او غیر رسمي غونډې، کنفرانسونه، سفرونه، کتنې او د کمېسیونونو جوړول هم زیات شوي دي. په ټولنیزو رسنیو کې د سولې خبرې ګرمې روانې دي. اکثره افغانان د سولې راتګ ته تلوار لري، خو بیا له ځینو کسانو سره زیاتې اندېښنې هم شته. د افغانانو لېوالتیا او اندېښنې دواړه په ځای دي، ځکه سوله د ډېرو لپاره ګټوره نسخه ده، خو د ځینو کسانو او ډلو لپاره د تاوان او د قدرت د بایللو وسیله هم ده.

که څه هم د سولې په تړاو ډېر بحثونه روان دي، خو بیا هم تر یوه حده معلومېږي چې اکثره افغانان د سولې پلویان، مخالفین او ځینې ورته اندېښمن هم دي. دوی د افغانستان د حکومت، طالبانو، امریکا او نورو اړوندو اړخونو د فعالیتونو په اړه سم معلومات نه لري او نه ټولې خواوې له ولسونو سره کافي معلومات شریکوي چې د اکثرو افغانانو اندېښنې له منځه لاړې شي. د معلوماتو د شریکولو لپاره سم میکانېزم هم نشته او د ستراتېژیکو اړیکو تشه لیدل کېږي. کله چې معلوماتي خلا موجوده وي، بیا ولس او شنونکي د شک پر تیوریو باندې زیاتې تبصرې کوي او د ولس په منځ کې د سولې په اړه شکونه را پیدا کوي. زما په اند د شک پر تیوریو باندې زیات بحث کول، د سولې پروسې ته تر ټولو زیات تاوان رسوي. په سیاسي معاملو او هم د سولې په خبرو کې همېشه د راکړې ورکړې مسئله وي؛ څه به ګټې او څه به بایلې، خو د ګټلو او بایلو ترمنځ باید یو تناسب موجود وي.

د سولې پروسې د پرمختګ لپاره لویه برخه پر یو بل باندې د باور او اعتماد جوړونې یا(Confidence Building) مرحله ده. د متخاصمو خواوو ترمنځ د اعتماد جوړونې په مرحله کې همېشه د منځګړو تګ او راتګ، غونډې او تماسونه زیات وي، څو ټولې خواوې په دې قانع شي چې د واقعي سولې د خبرو لپاره چمتو او متعهد دي. کله چې د اعتماد جوړونې له مرحلې وروسته د مذاکراتو او خبرو لپاره توافق رامنځته شي، نو بیا اسانه ده چې د هرې ستونزې لپاره داسې د حللارې پیدا شي چې د ټولو خواوو لپاره د تایید وړ وي او یا ټول ګټونکي شي. په سیاسي لحاظ دغه حالت ته د( Win-Win ) حالت وایي چې هېڅوک بایلونکي نه وي او ټولې خواوې د مذاکراتو او توافقاتو په لړ کې هغه څه تر لاسه کوي چې د جنګ په میدان کې یې نه شي ترلاسه کولای. په دې اساس د افغانستان د سولې خبرې تر اوسه لا د اعتمادسازۍ په فضا کې دي، څو د منظمو خبرو اترو لپاره زمینه برابره شي.

له دې لنډې سریزې وروسته دا باید ووایم چې په تېر یوه کال کې ما د سولې په تړاو په ډېرو غیر رسمي غونډو، کنفرانسونو او مجالسو کې ګډون کړی او هم د افغانستان په تړاو له باخبره کورنیو او بهرنیو لوړپوړو چارواکو سره بحثونه کړي او خپل نظریات مو سره شریک کړي دي. د دې مقالې محتوا د همدغو مرکو، بحثونو او کتنو نچوړ او د سولې په اړه زما شخصي برداشت دی. په دې مقاله کې یوازې هغو مهمو ټکو ته اشاره شوې چې د سولې پر وړاندې کوم فرصتونه او ننګونې موجودې دي. له ډېرو افغانانو سره دا لاندې پوښتنې مطرح دي:

- له طالبانو سره د افغان حکومت او امریکا د خبرو پس منظر یا لنډه تاریخچه څنګه پیل شوه؟
- ولې سولې ته اړتیا ده؟
- ولې د سولې په خبرو کې ګړندیتوب یا استعجالیت رامنځته شوی دی؟
- ټولې خواوې واقعاً سیاسي حل غواړي او که نه؟
- د متخاصمو ډلو په موقفونو کې څه تغیر لیدل کېږي او که نه؟
- د سولې د موجوده فرصت پر وړاندې خنډونه څه دي؟
- څه ډول سوله او په کوم قیمت؟ او داسې نور.
- د سیاسي خبرو د پیل بند بست یا (Stalemate) څنګه باید حل شي؟

په دې مقاله کې د پورته پوښتنو په اړه په لنډه یا اجمالي توګه رڼا اچول شوې او ریفرېنسونه مې نه دي ذکر کړي، ځکه چې د لوستونکو لپاره یې لوستل اسانه شي.

له طالبانو سره د افغان حکومت او امریکا د خبرو پس منظر یا لنډه تاریخچه څنګه پیل شوه؟

له ۲۰۰۳ ز کال نه را په دېخوا اکثرو طالبانو غوښتل چې په خپلو سیمو کې ژوند وکړي او د بهرنیو قواوو او حکومتي ادارو له اذیت نه په امن کې وي. په هغه وخت کې د امریکا متحده ایالتونو او هم افغان حکومت دې ته حاضر نه وو چې له طالبانو سره وغږېږي او ویل یې که طالبان غواړي چې په خپلو سیمو کې و اوسېږي، رادې شي او تسلیم دې شي. طالبانو دا نه منله او ویل یې چې افغان حکومت او نړیواله ټولنه باید په ګډه د طالبانو د راتګ لپاره داسې پالیسي ولري چې دوی ته د هېڅ ادارې له خوا تهدید او اذیت نه وي؛ ځکه هغه وخت د افغانستان امنیتي ادارې اکثره د طالبانو د مخالفینو او یا په اصطلاح له شمالي ټلوالې سره وې او طالبانو له هغوی نه وېره درلوده چې که دوی راشي، نو دوی به خامخا ځورېږي. که څه هم په حکومت کې ځینو کسانو هلې ځلې وکړې چې د امنیت شورا په سطحه داسې کومه پالیسي رامنځته کړي چې طالبان په خپلو سیمو کې په ارامه ژوند وکړای شي، خو متاسفانه داسې کومې موافقې ته ونه رسېدل او په قدرت کې واکمنو اکثرو کسانو یوازې د تسلیمۍ خبره کوله. طالبانو هم د تسلیمۍ خبره ردوله او د خپلو صفونو په منظمولو او د چریکي حملو پیل کېدو ته یې دوام ورکړ. په دې توګه د افغانستان د وخت د حکومتولۍ د خرابېدو او د نړیوالو د زورواکۍ له امله په افغانستان کې د جنګ لمن مخ په پراخېدو شوه. البته په دې بحث نه کوو چې څوک د چا له خوا تقویه کېدل، ځکه کله چې جنګ دوام پیداکوي، متخاصمې ډلې خامخا سیاسي، نظامي او اقتصادي ملاتړ له بېلابېلو هېوادونو او ډلو نه ترلاسه کوي.

**دوام لري...**

## د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون: ښايي د ځینو ولایتونو په ټاکنیزو پایلو کې سل سلنه بدلون راشي

د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون وایي، د ثبت شویو شکایتونو مستندوالي ته په کتو ښایي چې د ځینو ولایتونو په لومړنیو پایلو کې سل سلنه بدلونونه راشي.

د دغه کمېسیون مرستیالې حمیرا حقمل وویل، د ځینو ولایتونو د بیاځلي ثبت شویو شکایتونو څېړنه بشپړه شوې او د ځینو ولایتونو د څېړنې په حال کې ده. د نوموړې په خبره، د څېړل شویو شکایتونو له مخې کېدای شي چې د ځینو ولایتونو په لومړنیو پایلو کې له ۵۰ تر ۱۰۰ سلنه بدلونونه راشي.

حقمل وویل: «په پایلو کې بدلون حتمي دی. د ثبت شویو شکایتونو مستندوالي ته په کتو کېدای شي چې په ځینو ولایتونو کې سل په ځینو کې پنځوس او په ځینو کې اویا په سلو کې په لومړنیو لېستونو کې تغیرات راشي».

نوموړې زیاته کړه چې شکایتونه په ولایتونو کې ثبت شوي او لومړۍ څېړنه یې هم هلته کېږي او ځینې اوس هم د ثبت په حال کې دي.

ټاکل شوې وه چې د ۱۳۹۷ لمریز کال د ولسي جرګې د ټاکنو لومړنۍ پایلې د لړم په ۱۹مه اعلان شوې وای، خو د ټاکنو کمېسیون وایي، په ټاکنو کې ځینو ستونزو او شکایتونو ته په کتو، دا پایلې په مقطعي ډول اعلانوي.

د یاد کمېسیون چارواکي وایي، تر اوسه یې د ولسي جرګې د ټاکنو د ۳۰ ولایتونو لومړنۍ پایلې اعلان کړې او ټاکل شوې چې د کابل، پکتیا او بغلان ولایتونو او د کوچیانو د حوزې پایلې هم ژر اعلان شي.

د دغه کمېسیون مرستیال ویاند ذبیح سادات ازادي راډیو ته وویل، دا د شکایتونو د کمېسیون مسوولیت دی چې ثبت شویو شکایتونو ته شفافه رسېدګي وکړي او په لومړنیو پایلو کې بدلون حتمي امر دی.

نوموړي وویل: «د انتخاباتو خپلواک کمېسیون د ۳۰ ولایتونو لومړنۍ پایلې اعلان کړې. د شکایتونو کمېسیون مسوولیت لري، څو ټولو ثبت شویو شکایتونو ته رسیده ګي وکړي، حق حقدار ته وسپاري، ممکن په لومړنیو پایلو کې تغیرات راشي».

په ورته وخت کې د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ یا فیفا اجرایوي رییس یوسف رشید وایي، د ټاکنو خپلواک کمېسیون د لومړنیو پایلو په اعلان کې له احتیاطه کار نه دی اخیستی، نو لازمه ده چې د شکایتونو کمېسیون ثبت شوي شکایتونه په دقت سره وڅېړي.

## اندونیزیایي چارواکي: په تنګه سونډا ټاپو کې سونامي ۹۰۰ کسانو ته مرګ ژوبله اړولې



اندونیزیایي چارواکي وایي، د دغه هېواد د تنګه سونډا په ټاپو کې سونامي ۱۶۸ کسان وژلي او ۷۴۵ نور یې ټپیان کړي دي.

لومړني رپوټونه وایي چې د کراکاتوا ټاپو په یوه غره کې اورشیندنې د سیند په منځ کې زلزله رامنځته کړې او بیا ناڅاپه په نیمه شپه کې د اوبو لوی موجونه د خلکو پر کورونو ورغلي او یاده مرګ ژوبله یې اړولې ده.

چارواکي وایي، دې پېښې د پانډګلانګ، سویلي لامپانګ او سرانګ سیمې هم اغېزمنې کړې دي.

د اندونیزیا د طبیعي پېښو مدیریت مشر په خپل ټویټر کې انځورونه خپاره کړي چې اوښتي ګاډي پکې ښکاري، سړکونه سېلابونو وهلي او ځینې ودانۍ زیانمنې شوې دي.

چارواکي دغه راز خبرداری ورکوي چې زیات کسان لا هم تري تم دي او ښايي د مرګ ژوبلې شمېره نوره هم لوړه شي.

د دغه هېواد د سرې میاشتې اداري ویلي، د دوی کارکوونکي او ژغورونکې ډلې هم اغېزمنو شویو سیمو ته رسېدلې، څو اړمن خلک وژغوري.

تنګه سونډا ټاپو د اندونیزیا د دوو جزیرو، په ختیځ کې د جاوه او په لوېدیځ کې د سوماترا ترمنځ پرته ده.

تر دې پېښې وړاندې د تېرې سپټمبر میاشتې په وروستیو کې هم د دغه هېواد په بل ښار کې له سونامي رامنځته شوې ۷،۵ درجې زلزلې دوه زره کسان ووژل چې د چارواکو په خبره، هغه مهال د سولاوسي په ټاپو کې د سمندر موجونه درې متره لوړ شوي وو.

په اندونیزیا او شاوخوا سیمو کې ډېری اورشیندونکي غرونه شته چې وخت نا وخت د قوي زلزلو او سونامي لامل کېږي، ځکه دغه هېواد په رېنګ اف فایر یا پرله پسې زلزلو او اورشیندونکې سیمه کې پروت دی.

### په افغانستان کې د جګړې د خصوصي کېدو هڅې؛

# امریکا لا هم په افغانستان کې پر جګړه پانګونه کوي



له افغانستان څخه د متحده ایالتونو د نیمایي سرتېرو د ایستلو تر پرېکړې وروسته، لوېدیځو رسنیو راپور ورکړی چې پر ولسمشر ټرمپ د افغانستان د جګړې د خصوصي کولو لپاره فشارونه زیات شوي دي.

امریکایي ورځپاڼې واشنګټن ایګزماینر په یوه مقاله کې لیکلي چې د بلک واټر کمپنۍ پخوانی رییس اېرېک پرېنس له ډونالډ ټرمپ سره خپلې اړیکې نږدې ساتلې دي او نوموړی دې ته هڅوي، چې د افغانستان جګړه قراردادي او خصوصي کمپنیو ته وسپاري.

د بلک واټر پخواني رییس له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو له وتلو او د امریکا دفاع وزیر له استعفا وروسته ویلي چې «موږ را روان یو».

پوځي شنونکي د افغان جګړې خصوصي کول د افغانانو په خیر نه بولي او دا د پخوانیو تجربو د تکرار په معنا بولي.

د پوځي چارو شنونکی محمد طاهر یرغل وایي:« د دې خو زه هېڅکله طرفدار نه یم چې په افغانستان کې دې جګړه او یا د امنیت تامینول یا زموږ له وسله وال پوځ سره دې مرستې خصوصي کمپنیو ته وسپارل شي، ځکه د منظمو قوتونو او خصوصي امنیتي کمپنیو ترمنځ ډېر غټ توپیر دی او هغه یو ځل په افغانستان کې ازمویل شوي دي او د افغانستان خلک ورځخه ښه خاطره نه لري».

په ورته مهال د ملي شورا غړي که څه هم له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو وتل د افغان سولې لپاره یو ښه اقدام بولي، خو ټینګار کوي چې د امریکایي ځواکونو بدیل باید جنایتکارې ډلې او خصوصي امنیتي کمپنۍ نه وي.

دوی وایي، که امریکا افغان جګړه بلک واټر او یا کومې بلې خصوصي امنیتي کمپنۍ او ملېشه یي ګروپونو ته سپاري، دا په دې معنا ده چې متحده ایالتونه لا هم په افغانستان کې پر جګړې پانګونه کوي.

د مشرانو جرګې غړی غیرت بهیر وایي:«امریکایانو چې کومه فیصله کړې او خپل قوتونه کموي او وځي، اصولاً دا هغه خبره ده چې هر افغان یې باید هرکلی وکړي. که د دې بدیل بلک واټر وي، دا د جنګ تسلسل دی، د جنګ دوام دی او افغانستان به یو بل بحران ته بوځي».

د افغان جګړې د خصوصي کولو په تړاو دغه څرګندونې داسې مهال دي چې تازه ولسمشر غني د ملي دفاع وزارت لپاره اسدالله خالد او د کورنیو چارو وزارت لپاره امرالله صالح د نویو وزیرانو په توګه نوملي او په دې ګومارنو سره د جګړې شدت او یا هم کمبدل به وښیي چې واشنګټن په افغانستان کې څه غواړي.

افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونه په کندهار او ګاونډيو ولايتونو کې د ترهګرو پر ضد خپلو بريالیو عملياتو ته دوام ورکوي ترڅو دښمنان د قانون منګولو ته وسپاري او په ټوله سيمه کې ترهګري له منځه يوسي. دغه برياليي عمليات د زده کړې، مرستې او تر ټولو مهمه داچې له خلکو او هېواد څخه د ساتنې په موخه زموږ د زړورو سرتيرو ژمنه په ډاګه کوي.





افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونه د خلکو د ساتنې لپاره!

نیروهای ملی دفاعی و امنیتی افغان برای محافظت مردم!



نیروهای ملی دفاعی و امنیتی افغان به راه اندازی عملیات های موفقانه شان علیه شورشیان در ولایت کندهار و ولایت های همجوار آن، ادامه می دهند تا دشمنان را به پنجه قانون بسپارند و فعالیت های جنایتکارانه را در سراسر کشور، ریشه کن کنند. این عملیات های موفقانه، تعهد مبارزان شجاع ما را به آموزش، همکاری و در نهایت انجام موفقانه ماموریت حفاظت از مردم و کشور، نشان می دهد.

## د کتــاب خبــري

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### لومړی څپرکی
### پر خپل بري باور ولرئ:




که چېرې دا تضمین شي چې په نږدې راتلونکي کې به په یوه هېواد کې هراړخیزه وده پیل کېږي؛ نو نوي حالات حتمن د خلکو شخصي بریاوې نه تضمینوي. خو اجمالي نظر ښیي چې میلیونونه خلک د خپل ژوند د ودې لپاره هلې ځلې کوي او یوه کوچنۍ ډله پکې بریالۍ کېږي. سره له دې چې په تېرو دوو لسیزو کې ډېر زیات فرصتونه رامنځته شوي دي، خو زیاتره خلک اوس هم په هماغه پخواني حالت کې پښې و لاسونه وهي او د بیارغونې په راتلونکې دوره کې به بیا هم زیاتره خلک همداسې د وېرې، اندېښنې او بې کفایتۍ ښکار وي. د خپلو غوښتنو په پوره کولو کې به بېوسه وي او پر ځان به باور نه لري.
پایله دا ده چې د دوی هلې ځلې به محدودې پایلې ولري او محدوده خوښي به ورسره وي.
څوک چې فرصتونه په شتمنۍ بدلوي، ډېر پوه خلک دي. تاسې هم له همدې خلکو یاست، گڼي د خپل راتلونکي غم به درسره نه وی او دا کتاب به مو نه لوست. تاسې پوه خلک دا زده کوئ چې زړه ته څنگه قوت ورکړئ او د خپلې بریا لپاره څنگه هلې ځلې وکړئ.
قدم ورننباسئ، د بریا دروازې تل پرانیستې وي او نن تر پخوا ډېرې دي. همدا نن ځان په هغو خلکو کې وشمېرئ چې غواړي له ژونده خوند واخلي.
دا د بریا لومړی تمځای دی، خو مهم تمځای دی. لومړی تمځای پر خپلو وړتیاوو باور دی، نو پر خپله بریا باور ولرئ.

**پر خپل قوت باور څنگه زیات کړو؟**

دلته د باور یا ایمان د قوت زیاتولو لپاره درې لارې ښودل شوې دي:
الف- د بریا په اړه فکر وکړئ او پر ماتې فکر مه کوئ. په کار ، کور او هر ځای کې د نهیلي کوونکو فکرونو پرځای هیله ښونکي فکرونه وکړئ. له سخت حالت سره چې مخ شئ، دا مه وایئ چې: (ښایي ماتې وخورم) بلکې ووایئ چې: (بریالی/ بریالۍ کېږم.)
که له چاسره مو سیالي وي، دا مه وایئ چې (زه یې وړ نه یم...) بلکې ووایئ چې (زه په غوره خلکو کې یم.)
که فرصت مو وموند دا مه وایئ چې: (زه یې نشم کولای) بلکې ووایئ چې (زه یې کولای شم!). هڅه وکړئ چې ستاسو د فکرونو بهیر د (کولای شم) تر اغېز لاندې وي. که د بریا په اړه فکر کوئ، ذهن به مو د بریالیتوب نقشه درکوي او که فکر مو د ماتې په اړه وي، نو ذهن به مو هم د ماتې لاره درښیي.
ب. ځان ته تل ووایئ: تر هغې ډېر ښه یاستئ، کوم چې تاسې فکر کوئ. بریالي خلک خارق العاده نه وي. بریا ډېره هوښیاري نه غواړي، هېڅ رمز و راز پکې نشته او بخت پورې هم نه ده تړلې. بریالي خلک هم عادي انسانان دي، یوازې یې پرځان باور زیات دی، تاسې ځان ته په ټیټه سترگه مه گورئ او ځان کم مه بولئ.
ج. لوی فکر وکړئ. ستاسې د بریا اندازه ستاسې د فکر او لیدلورې په اندازه پورې تړلې ده. که موخې مو وړې وي، پایلې به هم وړې مومئ. لویې موخې وټاکئ چې لویې بریاوې ومومئ. دا هم مه هېروئ چې لوی پلانونه او مفکورې که تر کوچنیو هغو اسانه نه وي، سختې هم ترې نه دي.
رالف. جي. کوردنیز د جنرال الکتریک شرکت اجرائیوي رئیس دی، ده د مدیرت اړوند په یوه کنفرانس کې وویل: (که څوک غواړي چې د مدیریت څوکۍ ته ورسېږي، موږ ترې یوه ژمنه غواړو، ژمنه دا ده چې دوی به د شخصي ځان جوړونې لپاره یو پلان تعقیبوي. هېڅوک چاته د ځان جوړونې امر نه کوي. خلک که په خپلو چارو کې پاتې شوي او که پرمختگ یې کړی، هرځل یې د خپلې خوښې او ټاکنې پر اساس عمل کړی دی. دا مسأله وخت، کار او قرباني غواړي او ستا لپاره یې هېڅوک نه شي کولای.
د ښاغلي کودینر سپارښتنې څرگندې او عملي دي. د همدې سپارښتنې پر اساس ژوند وکړئ. هر څوک چې په هره برخه (مدیریت، کاروبار، هنر، دین، سوداگرۍ، انجینرۍ ...) کې لوړ ځای ته رسېدلي، ځانته یې خپله د ودې یو پلان جوړ کړی او هماغه یې تعقیب کړی دی.
ښه ښوونیز او د ودې پلان باید درې موخې ولري او دا د دې کتاب محتوا هم ده، تاسې باید دا درې موخې تعقیب کړئ:
موخه وټاکئ چې ... څه باید وکړو؟
لارې چارې وټاکئ چې ... څنگه یې باید وکړو؟
باید چې وشي ... یعنې نتیجه ورکړي.
څه باید وکړو؟ دا برخه د بریالیو خلکو د لیدلورو او تکتیکونو په اساس تنظیمېدای شي چې هغوی خپلې چارې څنگه پر مخ وړي؟ د لارې خنډونه څنگه هواروي؟ درناوی څنگه ترلاسه کوي؟ په نورو څه امتیاز لري؟ څه ډول فکر کوي؟ ... .
څنگه یې وکړو؟ دا برخه بیا یو لړ څرگندې او د عملي کېدو وړ لارښوونې غواړي. دا لارښوونې د دې کتاب په ټولو څپرکو کې موندلای شئ. دا لارښوونې کارسازې وي، دا وگورئ او پایلې یې په ځان کې وارزوئ.

**دوام لري...**

# اندورا

حشمت الله نوري



اندورا په جنوب لوېدیځه اروپا کې د شمالي عرض البلدونو د ۴۲ او د ختیځو عرض البلدونو د یوې درجې ترمنځ موقعیت لري. دغه هېواد ۴٦۸ کیلومتره مربع مساحت لري او له دې پلوه د نړۍ ۱۹۲ م لوی هېواد دی.
اندورا شمال ته له فرانسې، جنوب، ختیځ او لوېدیځ ته له اسپانیا سره گډه پوله لري.
دغه هېواد چې د نړۍ له کوچنیو هېوادونو څخه دی، د اروپا په جنوب لوېدیځه برخه کې د پیرنه غرونو د لړۍ د ختیځې برخې په جنوبي لمنو کې پروت دی.
د اندورا جگ غرونه پیرنه نومېږي. دغو جگو غرونو او ژورو درو د دغه هېواد طبیعت ډېر ښکلی کړی. د ژورو درو په منځنیو برخو کې یې لنډ، خو له اوبو ډگ سیندونه بهیږي چې تر ټولو لوی سیند یې والیرا دی. د دغه هېواد تر ټولو ټیټه سیمه د وري رونر ده چې د سمندر له سطحې ۸۴۰ متره لوړوالی لري او تر ټولو لوړه څوکه یې کوما پیدروسا ده چې ۲۹۴٦ متره لوړوالی لري.
د دغه هېواد پلازمېنه اندوراله ویلا ښار دی. دغه هېواد ۸۵۴۷۰ تنه نفوس لري چې په هر کلیومتر مربع سیمه کې یې ۱۸۲ تنه ژوند کوي. د اندورا ۸۸ سلنه خلک په ښارونو کې ژوند کوي او ۱۲ سلنه نور یې بیا په کلیو او بانډو کې مېشت دي.
د دغه هېواد ۴۳ سلنه خلک سپین اسپانایي، ۳۳ سلنه اندورایي، ۱۱ سلنه پرتگالي، ۷ سلنه فرانسوي او ٦ سلنه یې د نورو نژادونو لرونکي دي.
دغه راز ۸۲ سلنه خلک یې رومن کاتولیکان او پاتې نور یې د بېلابېلو دینونو پیروان دي. رسمي ژبې یې فرانسوي او پرتگالي ده.
اندورا د ادراي وېش له مخې په ۷ برخو وېشل شوې دی. اندوراله ویلا، کانیلو، انکمپ، سنت جولیا، دی لوریا، له مسنا، اوردینو او ارنسال د دغه هېواد مهم او لوی ښارونه دي.
د حکومت ډول یې پارلماني ولسواک دی. د اندورا لومړی اساسي قانون په ۱۹۹۱ ز کال کې جوړ او د ۱۹۹۳ ز کال د مارچ په ۱٦مه ټولپوښتنې ته وړاندې شو او د اپرېل په ۲۸مه نافذ شو. د دغه هېواد اوسنۍ واکمني له دریو برخو جوړه شوې ده.
د اندورا د دولت مشر یعنې د اجرایه شورا رییس د فرانس اولاند چې کرستین فریمونت یې استازیتوب کوي او د اسپانیا د اورخل د سیمې د مذهبي مشر استازی جانسیسلیا چې نیمستې اوستی یې استازی دی، د دغه هېواد د لومړي وزیر، د ولسي جرگې او دوو واکمنو شهزاده گانو له خوا د څلورو کلونو لپاره ټاکل کېږي. دغه مشر بیا په خپل وار د اندورا د کابینې نهه وزیران ټاکي او دغه وزیران په ولسي جرگه کې پوره صلاحیت لري.
د دغه هېواد ولسي جرگه ۲۸ غړي لري چې ۱۴ یې د خلکو په خوښه او ۱۴ نور یې له اوو اداري برخو څخه ټاکل کېږي او ټول د څلورو کلونو لپاره کار کوي. په دغه هېواد کې د رایې ورکولو سن ۱۸ کاله او رایه ورکول پکې عمومي دي.
د اندورا حقوقي نظام د فرانسې او اسپانیا په مدني قوانینو او پخوانیو عنعناتو ولاړ دی. مذهبي احکام هم د اندورا د محاکمو په پرېکړو کې خپل ځای لري.
ستره محکمه، د عدالت عالي شورا او د اساسي قانون محکمه د دغه هېواد لوړ قضایي ارگانونه دي. د اندورا ستره محکمه یو قاضي القضات او اته قاضیان لري. مدني محکمه، جنایي محکمه او ادراي محکمه د سترې محکمې مهمې برخې دي.
ولسواک گوند، لېبرال گوند، لېبراله اتحادیه، ملي ولسواکه ډله، نوې ولسواکي، ټولنپال ولسواک گوند د دغه هېواد مهم او نفوذ لرونکي گوندونه دي.
اندورا په ۱۹۷۸ ز کال خپلواکي اخیستې او هر کال د سپټمبر اتمه په دغه هېواد کې د خپلواکۍ د ورځې په نوم نمانځل کېږي.
دغه هېواد په ۱۹۹۳ ز کال کې د گڼو نړیوالو ټولنو ترڅنگ د ملگرو ملتونو غړیتوب هم ترلاسه کړ.
اندورا کوچنی هېواد دی، خو ډېر پرمختللی او فعال اقتصاد لري. د دغه هېواد ۲ سلنه ځمکه د کرنې وړ ده، نو له همدې امله یې کرنیز تولیدات کورنۍ اړتیاوې نه شي پوره کولای او دغه هېواد د اړتیا وړ ډېر توکي له بهر څخه واردوي. د اندورا د صنایعو سکټور هم وړوکی دی او ډېر حساب نه شي ور باندې کېدلی.
بانکي چارې، سیلانیان، هوټلونه، پرچون خرڅلاو او مالي چارې د دغه هېواد په اقتصاد کې مهمه ونډه لري او نږدې ۸۵ سلنه خلکو ته یې د کار کولو زمینه برابره کړې ده. د سیلانیانو خدمات د اندورا د ناخالص کورني تولید ۷۵ سلنه برخه جوړوي.
اندورا سره له دې چې کوچنی هېواد دی، خو د زرگونو سیلانیانو لپاره د استوگنې او تفریح پوره امکانات لري. په کال کې شاوخوا ۸۰۰۰۰ زره بهرني سیلانیان دغه هېواد ته ورځي او هلته د لوړو شنو غرونو، ژورو ښایسته درو، رڼو اوبو او د تاوده دوبي له لمرینو ورځو څخه خوند اخلي. همدارنگه ژمی مهال اندورا د سکي وهلو لپاره ډېر په زړه پورې ځای دی.
دغه هېواد د اروپایي ټولنې د گمرکي تړون غړیتوب هم لري. د گمرکي محصول اندازه په دغه هېواد کې ډېره ټیټه ده او د سیلانیانو پر ډېرو خدماتو باندې دولتي مالیات نشته، نو له همدې امله په اندورا کې د ژوند بیه ارزانه ده او دا په خپل وار په لسگونو زره سیلانیان دغه هېواد ته د سفر لپاره هڅوي چې هلته هر کال څه د پاسه یو میلیارد ډالر لگوي.
اندورا څرځایونه نه لري، له همدې امله د غوایانو، پسونو ، وزو روزنه پکې په هېڅ حساب ده، خو خلک یې نږدې دېرش زره اسونه لري چې ډېر چټک ځغلي او په ټوله اروپا کې نوموتي دي. دغه هېواد د اوسپنې، ډېرو سکرو او سربو مهم کانونه لري.
اسپانیا، فرانسه، بلجیم، هالند، امریکا، برېټانیا او جرمني د اندورا مهم تجارتي شریکان دي. د ټلیفون کوډ نمبر یې ۰۰۳۷٦ او د انټرنېټ کوډ نمبر یې اې ډي دی.
اندورا د اوبو کورنۍ لارې، د تېلو او گازو نل لیکې، هوایي ډگرونه او د اوبو د غاړې سوداگریز بندرونه نه لري او د اسپانیا او فرانسې له هوایي ډگرونو او بندرونو څخه کار اخلي.
په دغه هېواد کې یو ټلوېزیون، دوې راډیوگانې او ۱۰ سوداگریزې خصوصي راډیوگانې فعالیت کوي.
اندورا له ۱۰ کلونو څخه لوړ عمر لرونکي خلک په لیک او لوست پوهېږي چې ډېری یې منځنۍ او لوړې زده کړې لري. په اندورا کې په منځنۍ توگه هر کس ۱۲ کاله په درس کې تېروي.
زده کړه په دغه هېواد کې شپږ پړاوونه لري. له وړکتون نه نیولې تر ماسترۍ او دوکتورا پورې یې ورته ښه زمینه برابره کړې ده.
په دغه هېواد کې روغتیایي اسانتیاوې د ډاډ وړ دي. خصوصي یا عامه بېمې لري چې له خلکو سره د وزگارتیا، ناروغتیا، زېږښت، معلولیت، تقاعد یا مړینې په وخت کې مرستې کوي.
اندورا منظم وسله وال پوځ نه لري، د دغه هېواد د سرحدونو او کورني امنیت ساتنه د پولیسو دنده بلل کېږي. د هغه تړون له مخې چې د اندورا په اړه پخوا د فرانسې او اسپانیا د دولتونو ترمنځ لاسلیک شوی، د اندورا د دفاع مسوولیت د دغو دوو هېوادونو پر غاړه دی.
د دغه هېواد د اوسنۍ خاورې د پخواني تاریخ په هکله ډېر معلومات نشته. په ۱۲۷۸ ز کال کې د اسپانیا د سیمې د کلیسا او د فرانسې د فوا د سیمې د فیوډالي مشرانو ترمنځ داسې یو تړون لاسلیک شو چې د دې سیمې په هکله یې د دوی ډېرې پخوانۍ لانجې پای ته ورسولې. دواړو لورو د اندورا شتون په رسمیت وپېژانده او پرېکړه وشوه چې دغه کوچنۍ سیمه به په گډه اداره کوي.
د اندورا، فرانسې او اسپانیا یاد تړون د نړۍ له ډېرو پخوانیو تړونونو څخه دی چې اوس هم د اعتبار وړ دی او درې واړه خواوې په درنه سترگه ورته گوري.
اندورا له ۱۲۷۸ ز کال څخه تر ۱۹۹۳ ز کال پورې ۷۱۵ کاله د فرانسې او اسپانیا د استازو له خوا په گډه اداره کېده. په دې موده کې د دغو دریو خواوو په لومړني تړون کې دوه ځلې تعدیلات راغلي چې د هغې له مخې د فرانسې له خوا د کنت دنده لومړی د فرانسې پاچایانو او وروسته بیا د فرانسې ولسمشرانو ته وسپارل شوه. اوس اوس د فرانسې ولسمشر یا د اسپانیا د اندورا په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوي، دوی خپل استازی لري او د اندورا د ولسي جرگې د ۲۴ غړو په گډون دغه هېواد اداره کوي او د اندورا بهرنۍ اړیکې د فرانسې د دولت له خوا په مخ بیول کېږي.
د دغه هېواد خلک د دې سیمې له خپلواکۍ وروسته له هېڅ ډول کورنۍ جگړې، بهرني یرغل، کودتا یا کومې بلې پېښې سره نه دي مخ شوي. له همدې امله دغه هېواد د نړۍ تر ټولو د پوره امنه او سوله ییز هېواد نوم گټلی دی.
اندورا د اروپایي ټولنې غړیتوب نه لري، خو یورو یې د خپل پولي واحد په توگه منلې او د اروپا د گمرکونو له ځینو کودونو څخه هم گټه اخلي. افغانستان او اندورا په خپلو کې هېڅ راز اړیکې نه لري.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۸۵ |
| € | ۸٦,۳۰ |
| Rp. | ٥٤١ |
| ₹ | ۱۰٦۰ |
| ¥ | ۱۰,۹۵ |
| £ | ۹۵,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بيړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانۍ

# د نړۍ هغه ځایونه چې په لیدلو يې حیرانېږئ

حمیدالله حمیدي

مشهور انګلیسي لیکوال ډېوېډ میچل(David Mitchell) یو وخت ویلي وو: «هغه کس چې له ډېرې شتمنۍ سره مړ شي، ګټونکی دی» خو اصلي خبره دا نه ده. ګټونکی هغه څوک دی چې ډېرې تجربې ولري او خوښ ژوند يې کړی وي. په دې لیکنه کې به دا ولولي چې ولې علم اوس هم وايي چې خپله ټوله شتمني په سفر ولګوی.

پخوانیو خلکو داسې فکر کاوه چې ټولې خوښۍ په مادیاتو کې دي، خو اوس علم ثابته کړې، هغه څه چې تاسو خوشالوي او خوښي درکوي، هغه تجربې دي. تجربې لکه سفر، له کوره بیرون کار کول، نوي شیان زده کول، له نندارتونونو لیدنه او داسې نور... موږ داسې فکر کوو چې نوی برنډ ټلوېزیون د یوې ښکلې جزیرې له لیدو ښه دی او یا ډېر عمر کوي، خو باید پوه شو چې هېڅکله داسې نه ده.

د کرنل پوهنتون د ارواپوهنې استاد ډاکټر توماس ګیلووېچ (Thomas Gilovich) چې نږدې څو لسیزې یې د پیسو او خوښۍ ترمنځ د اړیکو په اړه څېړنې کړې، وايي: «موږ پیرل کوو، څو خوشاله شو او په دې برخه کې یو څه بریالي هم یو، خو دغه خوښي ډېره موقتي ده. سمه ده چې د نویو شیانو اخیستل راته په زړه پورې وي او خوشاله کوي مو، خو له یو څه مودې وروسته ور سره عادت کېږو.»

د بېلګې په توګه، نوی ټلوېزیون مو تل د سترګو پر وړاندې وي، ور سره عادت کېږو، دغه ټلوېزیون لکه د یوه غبار په څېر ورو ورو د اسمان په خوا ځي او اخر مو له سترګو پناه کېږي، خو سفر کول راته بیا داسې تجربې راکوي چې ټول عمر را سره وي او د وجود یوه برخه مو ګرځي.

**فکر وکړئ کوم یو به در باندې ډېر اغېز وکړي؟**

د لوبو هغه سامانونه چې په کوچنیوالي کې مو درلودل او یا هغه سفر چې له کورنۍ سره مو یو ځای کوم هېواد یا ښار ته کړی و؟ هغه سفر یادوم چې اوس هم در په یاد شي او خوله مو له خندا جینګه شي.

ګیلووېچ د حیرانوونکي ژوند تر نامه لاندې په یوه څېړنه کې چې په (Journal of Consumer Psychology) چاپ شوې هم ده، وايي: «دا زموږ تجربې دي چې د ژوند او وجود په یوې لویې برخې مو بدلېږي، نه زموږ شتمني».

کېدای شي ستاسو په ژوند کې ډېر داسې څه وي چې له کچې زیاته مینه ور سره ولرئ او ان د هویت په څېر ور سره تړلي وي، خو له دې سره سره هغه ستاسو له وجوده لرې دي. په بدل کې يې بیا تجربې هغه څه دي چې ستاسو له وجود سره تړلې او نه بېلېدونکې دي.

ګیلووېچ همدا راز وايي: «د مادیاتو اخیستلو په پرتله د تجربو اخیستل اسانه هم دي او داسې څه دي چې نه له لاسه ورکول کېږي او نه هم زړېږي. په اصل کې دا تجربې دي چې زموږ د وجود یوه برخه جوړه وي، له نورو سره مو نږدې کوي او ډېرې لویې خوښۍ راکوي.»

نو ولې بیا په تمه یاست؟ هغه پیسې چې د کور لپاره مو د نویو شیانو اخیستو ته ځانګړې کړې دي، را وایئ خلځ او له کورنۍ سره مو په ګډه سفر وکړئ، موزیم ته ولاړ شئ او یا دا چې د ښار یوه ښکلي پارک ته ولاړ شئ او څو شېبې په خوښۍ تېرې کړئ. ډاډه یم چې دا خوښي به مو ټول عمر په یاد وي او هر وخت به یې له خاطرو او تجربو خوند اخلئ.

د نړۍ په ځینو برخو کې داسې ځایونه شته چې تر څو یې په خپلو سترګو ونه وینئ، هېڅ باور به ونه کړئ چې په رښتیا به هم داسې یو ځای وي او کنه. په دې لیکنه کې مو د نړۍ ځینې عجیب او جالب ځایونه درته معرفي کړي دي.

**۱- خال لرونکی خوړ (Spotted Lake)، برېټانیا، کلمبیا، کاناډا**

دغه په زړه پورې او عجیبه خوړ د اوسویس کوچني ښار په شمال لوېدیځه برخه کې موقعیت لري. په اوړي کې د دغه خوړ اوبه تبخیر کېږي او معدني رسوبات يې خال خال د ځمکې پر مخ پاتې کېږي. داسې چې یو خال يې له بل خال سره په رنګ کې توپیر کوي. د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه خلک د دې سیمې لیدو ته ورځي.

**۲- د تور څاه (Thor's Well)، اورګان ایالت، امریکا**

د تور څا چې د کاسې په څېر جوړښت لري او د اورګان په سواحلو کې موقعیت لري. دغه څه په زیاته پیمانه اوبه زبېښي چې بیا وروسته په ډېر لوړ فشار بېرته د ځمکې سر ته راوځي. داسې ویل کېږي چې دا د اورګان د سیند او یوه بل دریاب ترمنځ یو غار دی چې د چت په څېر واقع شوی دی. کله له پاسه اوبه ورځي او کله هم له لاندې ترې د اوبو جپه را وځي. د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه ډېر سیلانیان د دغه غار لیدو ته راځي او هغه وخت يې له لیدلو خوند اخلي چې اوبه بېرته له ځمکې څخه پورته په ډېر لوړ فشار را وځي.

**۳- پاموک کاله (Pamukkale)**

پاموک کاله په ترکي ژبه کې د پنبې کلا ته وايي. دغه سیمه د ترکیې تر ټولو مشهوره عجیبه او طبیعي سیمه ده چې ټول خلک يې د دوی په ژبه د سپینو حوضونو په نوم پېژني. دغه ډېرې سلګونه کلونه وړاندې د اهکي رسوباتو په پایله کې جوړې شوې دي او ډېر په زړه پورې جوړښت لري. د دې سیمې معدني اوبه همدغو ډنډونو ته په ورته ځایونو کې ځای پر ځای کېږي چې یوه ځانګړې ښکلا رامنځته کوي.

**۴- د هیلییر جزیره (Lake Hillier)، لوېدیځه‌استرالیا**

دغه جزیره په ۱۸۰۲ ز کال کې په لویې جزیرې مجمع الجزایر (ریچرچ) کې چې په استرالیا کې واقع ده، کشف شوې ده. د دې جزیرې رنګ د ټول کال په اوږدو کې هېڅ تغیر نه کوي. ویل کېږي چې د رنګ اصلي لامل يې هم د اوبو هغه باکتریاوې دي چې د دونالیلا په نوم معدني مواد او مالګې لري.

**۵- باداب سورت (Badab-e-Surt)، ایران**

دغه پلکاني ګاګرې «تراورتنی» د ایران په شمال کې موقعیت لري او د نړۍ په عجایبو کې راځي. زرګونه کلونه کېږي چې دغه ګاګرې په همدې ډول پاتې دي او هېڅ بدلون نه دی پکې راغلی. تراورتن هغو اهکي ډبرو ته ویل کېږي چې د ګرمو اوبو له هغو رسوباتو څخه جوړېږي، کوم چې مالګه لري. د رنګ سوروالی يې هم په دې چینو کې د زیاتې اوسپنې د موجودیت له کبله دی.

**٦- د تیانزي غرونه (The Tianzi mountains)، چین**

د تیانزي غرونه د چین په شمال لوېدیځ کې د هونان په ولایت کې موقعیت لري. دغه تېره او ولاړ غرونه ټول په شنو ونو پوښل شوي دي. د نړۍ د ډېرېو مشهورو فلمونو ډېرې صحنې هم په همدغه ځای کې ډکې شوې دي.

## د روښتیا د څار بنسټ: حکومتي چارواکي او د ملي شورا غړي له ملي بودجې ناوړه ګټه اخلي

د روښتیا د څار بنسټ وايي، په ملي بودجه کې پر اصلاحاتو سربېره اوس هم له دې بودجې حکومت، با نفوذه کسان او د ملي شورا غړي ناوړه استفاده کوي.

د فساد موجودیت، د ملي بودجې د سند په جوړولو کې د خلکو نه ګډون، په بودجه کې د ځینو کسانو سیاسي نفوذ، د بانفوذه کسانو او ملي شورا د غړو له خوا ناوړه استفاده او د پراختیایي بودجې لوړ لګښت د دې لامل شوي چې ملي بودجه د بېوزلۍ په راکمولو او په اقتصادي پرمختګ کې خپله لازمه اغېزمنتیا ونه لري.

د روښتیا د څار بنسټ اجرایوي رییس سید اکرام افضلي د ۱۳۹۸ مالي کال د بودجې په اړه له رسنیو سره د څېړنو د راپور شریکولو پر مهال وویل چې له بودجې حکومت، با نفوذه کسان او د ملي شورا غړي ناوړه استفاده کوي.

نوموړي زیاته کړه: «دا چې بودجه یو ملي سند دی، باید وتوانېږي چې د اقتصادي پروسې پراختیا ته تسهیلات برابر کړي. له بده مرغه دا چې د بودجې پروسه یوه ملي پروسه نه وه او له دې پروسې زیاته ناوړه استفاده کېږي. ملي بودجه څه ډول چې لازمه وه، نه ده توانېدلې چې د بېوزلۍ د راکمولو او اقتصادي پرمختګ په برخه کې مهم نقش ادا کړي.»

د دغه بنسټ د مسوولینو په وینا، حکومت باید ملي بودجه د خلکو د اړتیاوو او غوښتنو پر بنسټ چمتو کړي.

دا په داسې حال کې ده چې له دې مخکې مدني فعالانو هم له ملي بودجې د ناوړه استفادې او د نه متوازنتوب په اړه شکایتونه کړي وو.

د راتلونکي مالي کال بودجه ۳۹۹ میلیارده افغانۍ تخصیص شوې چې ۲۷۵ میلیارده يې عادي او ۱۲۴ میلیارده نوره يې انکشافي بودجه ده. دغه بودجه څو ورځې مخکې د مشرانو جرګې له لوري تایید او د تصویب لپاره ولسي جرګې ته ولېږل شوه.

په ورته وخت کې د ملي بودجې د عدالت غوښتنې د ډلې غړې روشن څېړن په دغه ناسته کې وویل چې حکومت په بودجه کې د ښځو غوښتنې او نظرونه په پام کې نه دي نیولي، خو د مالیې وزارت ویاند شمعروز مسجدي وویل چې له ملي بودجې به هېڅ چارواکی او نور کسان ناوړه استفاده ونه کړي او دغه بودجه د خلکو د اړتیاوو پر بنسټ برابره شوې ده.

نوموړي وویل: «موږ دغه مسئله چې ګواکې د افغانستان ملي بودجه د زورواکو او وکیلانو له لوري د شخصي ګټو لپاره تر تاثیر لاندې راغلې، په کلي ډول ردوو، بودجه یو ملي سند دی، د خلکو د ژوند د ښه والي لپاره چمتو شوې او انشاالله داسې بودجه به وي چې د خلکو په ژوند کې مثبت بدلون راولي».

د افغانستان د ولسي جرګې منشي عرفان الله عرفان له ازادي راډیو سره په خبرو کې له ملي بودجې د ملي شورا د غړو ناوړه استفاده رد کړه او ویې ویل چې ملي شورا د خلکو ګټو ته په کتو صلاحیت لري چې ملي بودجه رد یا هم تصویب کړي.

## مشرانو جرګه: له افغانستانه د امریکایي ځواکونو وتل د امنیتي تړون خلاف دي

مشرانو جرګه له افغانستانه د امریکایي ځواکونو احتمالي وتل یوه بېړنۍ پرېکړه او له افغانستان سره د امریکا د امنیتي او دفاعي تړون له موادو خلاف ګڼي.

د دې جرګې رییس فضل الهادي مسلمیار پرون د جرګې په عمومي غونډه کې ټینګار وکړ چې له امریکا سره د افغانستان د امنیتي تړون له مخې د دغه هېواد د کابینې او افغان حکومت له مشورې پرته د امریکایي ځواکونو د وتلو په تړاو د ډونالډ ټرمپ هر ډول پرېکړه به بیړنۍ اقدام وي.

مسلمیار وویل: «دا د جرګې د بهرنیو اړیکو د کمېسیون دنده ده چې د افغانستان د وضعیت په پام کې نیولو سره ارزونې ولري او بیا یې په تالار کې مطرح کړي چې په دغه حساس وخت کې له افغانستانه د امریکایي عسکرو د وتلو په اړه د ټرمپ یو اړخیز تصمیم او که دغه ځواکونه پاتې کېږي او یا وځي، زیان به يې موږ ته څه وي؟ ځکه چې امریکا له موږ سره امنیتي تړون لري».

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې ځینو امریکایي رسنیو د امریکایي چارواکو له قوله لیکلي چې ټرمپ له افغانستانه د خپلو ۷۰۰۰ عسکرو د وتلو سپارښتنه کړې ده.

خو د دغه خبر له خپرېدو وروسته، د افغانستان ولسمشرۍ ماڼۍ په یوه اعلامیه کې وویل چې له افغانستانه به د نیمایي بهرنیو ځواکونو وتل د هېواد پر امنیت منفي اغېز ونه کړي.

ډېری سناتوران وايي، که امریکا د افغانستان په جګړه کې د خپلې ګټې او زیان په فکر کې نه وای او د افغانستان د خلکو قربانیو ته يې درناوی لرلی، د طالبانو او د پاکستان په اشاره به يې دغه پرېکړه نه کولی.

د مشرانو جرګې لومړي مرستیال محمدعلم اېزدیار په دې اړه د اندېښنې په څرګندولو سره وویل: «موږ په وار وار ټینګار کړی چې له بهرني ملاتړه پرته سخته ده چې موږ سیاسي، امنیتي او ټولنیز ژوند ته دوام ورکړو. موږ باید پر ځان متکي شو، خو هیله من یو چې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو وتل زموږ د خلکو او پوځیانو پر روحیه تاثیر ونه کړي.»

خو د دې جرګې دوه نور سناتوران غیرت بهیر او عبدالله قرلق بیا وايي، په هېواد کې له اتلسو کلونو راهیسې د بهرنیو ځواکونو شتون د افغانانو له قربانیو پرته نور څه نه لرل. دوی له امریکا غواړي چې له افغان پوځیانو سره خپل ملاتړ ته دوام ورکړي.

په ورته وخت کې د ناټو ویاند اونا نونجسکو ویلي، د ناټو د بهرنیو چارو وزیران به د افغانستان د سولې او ثبات په برخه کې د خپلو دوامدارو ژمنو په پام کې نیولو سره، په نږدې راتلونکي کې ناسته وکړي.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**اېډېټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**ليکوالان:** محمد نظيم سمون، جاويد کوټوال او شفيق همدرد
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين او حشمت الله نوري
**گرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




دوشنبه د ۱۳۹۷ د مرغومي درېیمه | د ۲۰۱۸ د ډسمبر ۲۴مه | دویم کال |۳۰۶مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۷ | ۱۳ | ۱٤ | ۹ | ۱۸ |
| -۸ | ۰ | -۲ | -۲ | ۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳٦ | لمر ختل ۰٦:۵۵ | ماسپښین ۱۲:۲۱ | مازیګر ۰٤:۱۰ | ماښام ۰۵:٤٦ | ماخوستن ۰۷:۰۰

## اسدالله خالد و امرالله صالح به وزارت‌های دفاع و داخله معرفی شدند



رئیس‌جمهور غنی، در حکم‌های جداگانه اسدالله خالد را به عنوان سرپرست وزارت دفاع ملی و امرالله صالح را به حیث سرپرست وزارت داخله معرفی کرده است.

اسدالله خالد و امرالله صالح، هر دو در دوران ریاست جمهوری حامدکرزی، در پست ریاست عمومی امنیت ملی کار کرده‌اند.

امرالله صالح در ماه مارچ سال گذشتۀ میلادی به عنوان وزیر دولت در امور اصلاحات امنیتی گماشته شد، اما پس از چند ماه او از این سمت استعفا کرد.

دفتر رسانه‌های ریاست جمهوری، حکم‌های معرفی آقای خالد و صالح را به این وزارت‌ها دیروز به رسانه‌ها فرستاده است.

در همین حال، گماشته‌شدن این دو مقام پیشین امنیتی در وزارت‌های دفاع ملی و وزارت امورداخله با استقبال شماری از آگاهان نظامی و اعضای ولسی جرگه روبه‌رو شده است.

هاشم الکوزی، رئیس کمیسیون دفاعی و امنیتی مشرانو جرگه در این باره گفت: «امرالله صالح و اسدالله خالد دو شخص را برای امنیت افغانستان مثبت می‌دانم، به نفع افغانستان است و اطمینان دارم که کشور به سمت درستی خواهد رفت».

میرزامحمد یارمند، نظامی پیشین بیان داشت: «مجرب هستند؛ اما وزیران فعلی هم کار های خود را با یک برنامه خوب پیش بردند، چون تهدیدات از بیرون زیاد است و عوامل داخلی هم بسیار قوی است، این‌ها هم دچار چالش‌ها می‌باشند، اما در تدبیر و درایت شان شکی وجود ندارد».

اما، شماری از آگاهان مسائل سیاسی، معرفی اسدالله خالد و امرالله صالح را در اوضاع کنونی بیشتر یارگیری از بهر آماده‌گی‌های رئیس جمهور برای انتخابات ریاست جمهوری سال آینده می‌دانند.

### نړۍ



## اندونیزیایي چاروا‌کي: په تنګه سونډا ټاپو کې سونامي ۹۰۰ کسانو ته مرګ ژوبله اړولې

۲


## دوامداره ګډون!
## مشارکت دوامدار!



د امریکا د متحده ایالتونو نړیوالې پراختیایي ادارې او برښنا شرکت په مرسته لمریزې برښنا ته د غزني، زابل او کندهار ولایتونو د اسېدونکو د لاسرسي لپاره هڅې روانې دي. د ۱۱۵ میلیونه ډالرو په ارزښت دغه پروژه چې د امریکا د متحده ایالتونو نړیوالې پراختیایي ادارې له لورې تمویلیږي، له افغان دولت او هغه پانګونو چې یوه سوکاله او باثباته راتلونکې چمتو کوي، څخه د نړیوالې ټولنې د ملاتړ ژمنه په ډاګه کوي.

تلاش ها برای دسترسی باشندگان ولایت های غزنی، زابل و کندهار به انرژی آفتابی و برق با همکاری اداره توسعه بین المللی ایالات متحده امریکا و د افغانستان برشنا شرکت، ادامه دارد. این پروژه ۱۱۵ میلیون دالری که از سوی اداره توسعه بین المللی ایالات متحده امریکا تمویل می شود، نشان دهنده تعهد جامعه بین المللی در حمایت از دولت افغانستان و سرمایه گذاری ها برای ایجاد یک آینده مرفه و پایدار می باشد.

